# سېکولرتوب

**نورالله اتل**

د سېکولرتوب مانا ده چي سرکار يا نور سازمانونه او ګوندونه، چي له واک او ځواک سره يې کار وي، پکار ده چي له دين او ديني ګروهو څخه لرې او ايسته و اوسي او هيڅ کار پکښي و نه لري. ځکه چي دين او ګروهه د يوه کس خپل ځاني کار دی، د بل هيچا پکښي کار نشته.

مانا يې دا ده چي سيکولرتوب په دې ټينګار کوي چي يو کس دې د بل چا په تېر بيا د سرکار له ديني واک او لارښوونو څخه ازاد وي، او دولت دې د ګروهې او دين په چارې کښي ببړې وي. سرکار نه شي کولای چي په يو چا باندې دين او ګروهه په زور وتپي. په بله مانا، د اينسانانو کړنې، پرېکړې، په تېره سياسي هغه، پکار ده چي د زبات او ريښتياو پر بنسټ ولاړې وي، نه دا چي د بل چا تر ديني اغېزو لاندې بنداني وي.

د سېکولرتوب موخې هم بېلابېلې دي، او هم د سېکولرتوب په ملاتړ چي کومې خبرې کيږي هغه هم توپير وبله لري. د اوروپا لايسيزم (*Laicism*) وايي چي سېکولرتوب يو خوزښت دی، د نويتوب په لوريو خوزښت، او يوا دسي خوزښت چي له ديني نرخونو او ارزښتونو څخه ايسته او بېل دی. دغه ډول سېکولرتوب زياتره هغه وخت او هغو هيوادونو کښې رامنځته شوی دی چرته چي دولتونه د کليسا تر واک لاندې ول او يا داچي دولت به د يوه ځانګړي دين کومک کولو.

داسي ويل کيږي چي په امريکې کښي سېکولرتوب په سياسي کچه تر ډېره ځايه دين او ګروهه د سرکار له لاسوهنې څخه ساتلې ده، مګر د ټولنې په کچه بيا سېکولرتوب ډېر واکمن نه دی. په بېلابېلو هيوادونو کښي بيلابېلې ډلې او غورځنګ د بېلابېلو موخو لپاره د سېکولرتوب ملاتړ کوي.

د «سيکولرتوب» ټکی په ړومبي ځل برتانوي جارج هوليواک په ۱۸۵۱ کښي وکارولو. که څه هم دا ټکی هغه مهال نوی و، مګر هغه ازاد اند ، چي پر بنسټ يې دغه ټکی وکارول شو، له پېړيو پېړيو راهيسي په تاريخ کښې شته و. په تېره بيا لومړی ځل سېکولر اندونه د مسلمان فلسفي، ابيني روشد، لخوا ورکړ شول چي د فلسفې او دين بېلتون يې غوښتلو. د ابينې روشد د فلسفي ښوونځی خورا نامتو دی. که څه هم نورو مسلمانانو د هغه ابينې روشد سيکولر اندونه او نهيرونه رد کړه او د هغه پر ځای يې د ايمام غزالي ستونګری اند ومنلو. جارج هوليواک د سېکولرتوب ټکی د دې لپاره وکارولو چي له دين څخه جلا ټولنيزې اډانې په باره کښې د خپل ا ندونه په داسي توګه څرګند کي چي په ديني ګروهو باندي نيوکه او ردول پکښي نه وي.

هوليواک، چي پخپله يو اګناستيک ( هغه کس چي نه د خدای شتون ردوي او نه يې مني) و، به ويل ، « سيکولرتوب د مسيهيتوب په چېه نه دی، بلکې ورڅخه بېل دی. دا په هغه څه باندي پوښتنې نه راپورته کوي کوم څه چي مسيهيتوب مني؛ مګر د مسيهيتوب غوندې هم نه دی، ځکه چي سېکولرتوب پخپله نور څه وړاندي کوي چي ببخي بدل دي.

سيکولرتوب هيڅکله دا نه وايي چي بل هيڅ چېرته رڼا او لارموندنه نشته، مګر دا ټينګار خامخا کوي چي په سېکولرتوب داسي ريښتيا دي چي رڼا او لارموندنه هرومر پکښي شته، دا داسي ريښتيا دي چي په بل څيز پوري اړه نه لري او همېشه او هرچرته کار کوي او ټولنې ته ګټه رسوي، سوله راولي او شخړه ببخي لرې کوي.

سېکولره پوهنه یوه داسي پوهنه ده چي په همدې ژوند کښي ، همدلته په دې نړۍ کښي ترلاسه کېدلای شي، سیکولره پوهنه د ژوند د چارې په باره کښې ده، د ژوند د ښېګړې او ښمر په باره کښې ده، او دا وړتیا لري چي دلته په همدې ژوند او پر همدې ځمکي وازمېیل شي او له مرګه وروسته بیا ژوند ته یې لاس تر زنې لاندي کښې ننو.»

ښاغلی باري کوسمین سېکولرتوب په دوو برخو وېشي: سخت او نرم سېکولرتوب. د کوسمین په وینا، «سخت سېکولرتوب د پوهنې په چوکاټ کښې دیني خبرې بېخي ناروا ګڼي او وایي چي د ازموینې او رېښتنې په ډګر کښې دیني خبرې ګروهي چارې هیڅ ځای نه لري». مګر نرم سېکولرتوب بیا وایي، « د بېخي کره (*absolute*) رېښتیاو موندل یو ناشونی کار دی او نو ځکه د ساینس او دین په خبرو کښې شک او زغم پکار ده چي یوې پخې ستې او ځواکمن ارزښت په توګه وکارول شي.




*(ناره د یوې کلیسا پر دروازه باندي لیکل شوې د فرانس د تومنواکی)*

## دولتي سیکولرتوب

په سیاسي مانا کښې سیکولرتوب د دین او سرکار د بېلتون پرلور یو غورځنګ او یو خوزښت دی. مانا چي د سرکار او دین ترمنځ وندنې، شاندې او تړاړ پکار ده چي کم تر کمه وي، هغه کانون چي په یوه دیني لوستني (*Scripture*) (لکه تورات ، اینجیل یا کوم بل دیني لوستنی) باندي ولاړ وي پکار ده چي پرځای یې ښاري کانون (*Civil Law*) راشي او ورسره پکار ده چي هرډول دیني توپیر له ټولنیزې او دولتي اډانې څخه وایستل شي. او ورسره ورسره دي په اولسواکی کښې د لږکیو د دیني رېښتو ساتنه هم ومنل شي.

په اوروپا کښې سیکولرتوب د لیتوالي (*Enlightenment*) له پېر سره ډېر نیژدې تړلی دی او اوس په لوېدیځه ټولنه کښې ستر رول لوبوي. په امریکې کښې د کلیسا او دولت بېلتون او په فرانس کښې د لایستې (*Laicite*) بنسټونه او ستې بېخي په سېکولرتوب باندي ولاړې دي، مګر کېدای شي په کړو

وړو کښې هرومرو او کټمټ بېخي داسي نه وي. په منځنيو پيړيو کښې، په اسلامي نړۍ کښې هم سيکولر دولتونه ول.

سيکولران د کليسا او دولت د بېلتون په باره کښې وايي چې سياستوال خو د سيکولرو چارو په باره کښې پرېکړې کوي، ځکه چې له ديني کړنو، چارو او کاروايانو سره يې هيڅ کار نشته. نو ځکه خو په امريکې کښې سيکولر سازمانوه تر زېږېدلو مخکې د بچي لرې کول، د امېدوارۍ مخنيوی، د جنينني ژوانکي څېړنه، د همجنسانو واده او جنسي ښوونو غوندي ناندايزو شخړو باندي خورا ډېر کار کوي.

زياتره ستر دينونه د سيکولرو او اولسواکو ټولنو لارليکه او ښودنه مني او سرغړونه نه ورڅخه کوي، مګر کېدای شي هغوی اوس هم په سياسي پرېکړو د اغېزمنېدلو هڅه کوي چې د کليسا – دولت د راکړې ورکړې له لارې ځينه ځانګړې ګټې ترلاسه کي.

ډېر مسيهيان د يوه سيکولر دولت ملاتړ کوي، او کېدای شي داسي انګېري چې په دې کښې د اينجيل ښووني مثل شوې دي ، په تېره بيا چې هزرت مسيه دا وينا چې وايي، « نو بيا ورکړه و ګيسر ته هغه څه چې د کيسر دي، او پرېږده و خدای ته هغه څه چي د خدای دي» مګر ځينه مسېهي بنسټپالان، په تېره په امريکي کښې، د سېکولرتوب په چپه دي، او وايي چې دا د مسېهي رېښتو او لارښوونو سره سم نه دی او د ميلټپالنې پر چپه دی. نن په نړۍ کښې تر ټولو سخت ديني بنسټپال ځواکونه مسېهي بنسټپالنه او اسلامي بنسټپالنه دي.

مګر ديني لړکيان بيا سيکولرتوب خوښوي او وايي چې سېکولرتوب او د رېښتو برابري دواړه يو څيز دي. د بېلګې په توګه، لکه د هندوستا مسلمانان چې وايي هلته سيکولر سياست د او دولت د مسلمانانو په ګټه دی.

فرانس، هند، مېکسيکو ، جنوبي کوريا او تورکي يو څو هغه هيوادونه چي چي دستورونه يې په سېکروتوب ولاړ دي ، که څه هم د دوی دستورونه او کانون له يوه بل سره بېخي ورته هم نه دي.

## سيکولره ټولنه

د نن ورځې لوېديځې ټولني په ګرده کښې سيکولرې ټولني بلل کيږي. دا ځکه چې هلته د دين او ګروهې ازادي نيژدې په بشپړه توګه شته ( په ګرده کښې په ديني ګروهو باندي کانوني يا ټولنيز بنديزونه نشته) ، او کوم ديني واکمن يا چارواکی پر سياسي پرېکړو باندي واک نه لري. مګر اوس هم په ډېرو هيوادونو کښې ديني ګروهې د سياسي خبرو اترو يوه برخه ګڼل کيږي. خو دا بيا له هغو لويديځو هيوادونو سره په ټکر کښې دی چېرته چي په لوی سياست کښې ديني يادونې بېخي نه شي کېدای.

ډي. اېل. مونبي د يوې سيکولرې ټولنې د ځانګړتياو په باره کښې وايي:

١ په دغي ټولنې کښې ټول يو ځای د جهان د څرنګوالي او په هغه کښې د اينسان د رول په باره کښې بس يوازې په يوه لېمون (*View*) نه پسې کيږي بلکې د هرچا خپله خوښه وي چي څه کول غواړ هغه کولای شي.

٢ سيکولره ټولنه بېخي په بشپړه توګه يو ډول او يو رنګ نه وي بلکې، رنګارنګ وي.

٣ دا ډول ټولنه زغم لرونکې وي. په داسي ټولنه کښې د ځاني پرېکړو سيمه او اوېجه پراخه وي.

۴ په هره ټولنه کښي ځینه ګډې موخې پکار دي چي وي، او په دې پسي بیا دا هم پکار ده چي د ستونزو د هواري لپاره ځینه منل شوې لارې چارې هم وي، او د ټولو لپاره یو کانوني چوکاټ هم وي.؛ په یوه سیکولره ټولنه کښې دا څومره چي کېدای شي نو هومره کم وي.

۵ د ستونزو هواری په رېښتونې توګه او د رېښتیاو پر بنسټ ترسره کیږي. سېکولره ټولنه کومه یوه لویه موخه پخپله نه ټاکي او نه یې پر چا په زوره تپي ، بلکې له خپلو غړیو سره د هغوی د موخو په موندلو کښې مرسته کوي.

۶ دا یوه داسي ټولنه وي چي کوم رسمي چورتونه نه لري. او نه هم د کړووړو کومه داسي ستره لاره لري چي هر چېري او هر چا ته دي د منلو وړ وي.

## د سیکولرې ټولنې ښې ځانګړنې

۱ د هر کس او کمکی ډلې ، چي د دې ټولنې یوه برخه وي، پکار ده چي زیات درناوی یې وشي

۲ د ټول اولس تر منځ برابري.

۳ پکار ده چي له هر کس سره مرسته وکول شي چي هغه خپله وړتیا په بشپړه توګه وغوړولای شي

۴ د زات ، پوړ او توکم د هر ډول توپیرونو او خنډونو تباه کول